د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

ګڼه: 395

(2 – 8 میزان 1401 هـ ش)

# د جمهوریت او امارت بهرنی سیاست؛ پرتلنه او وړاندیزونه




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

د جمهوریت او امارت بهرنی سیاست؛ پرتلنه او وړاندیزونه ........................................ 3

- سریزه........................................................................................... 3
- د افغانستان د اسلامي جمهوریت بهرنی سیاست........................................................ 4
- د افغانستان د اسلامي امارت بهرنی سیاست........................................................... 6
- پایله او پرتله ........................................................................................ 9
- وړاندیزونه ........................................................................................... 9

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د جمهوریت او امارت بهرنی سیاست؛ پرتلنه او وړاندیزونه

## سریزه

نړیوالې اړیکې د حکومتونو، حزبونو، سازمانونو او حتی د بېلا بېلو هېوادونو د افرادو ترمنځ اړیکو ته شاملېږي، خو بهرنی سیاست بیا یوازې د حکومتونو ترمنځ د اړیکو د تنظیم په موخه وي. یا ویلای شو چې بهرنی سیاست له یوې داسې ستراتیژۍ څخه عبارت دی چې د حکومت په کچه د مسؤولو اشخاصو له لوري په نړیواله کچه د ملي ګټو په چوکاټ کې د ټاکلو موخو د ترلاسه کولو لپاره جوړېږي.

د یوه هېواد بهرنی سیاست د ملي ګټو پر بنسټ جوړېږي او ټولیز هدف یې هم د ملي ګټو ساتنه ده. که څه هم ملي ګټې بیا د بېلابېلو هېوادونو ترمنځ توپیر لري او وخت ناوخت بدلون هم مومي؛ خو په کلي ډول ویلای شو چې د بهرني سیاست بنسټیزې موخې د دیپلوماتیکو لارو چارو په مرسته د خپلواکۍ، ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا، امنیت، په نورو هېوادونو کې د خپلو اتباعو له حقونو دفاع او خوندیتوب، په نړیواله کچه د هېواد ښه نوم ساتل او داسې نورو ملي ګټو ساتنه ده. یعنې بهرنی سیاست هغه وسیله ده چې پر بنسټ یې دغه موخې لاسته راځي.

په نړۍ کې له انقلابونو او دوو نړیوالو جګړو راوروسته له حکومتونو سره دا تصور پیدا شو چې له خپلو ولسونو سره نږدې اړیکې ولري، څکه د ولسونو حمایت او رضایت کولای شي حکومتونو او دولتونو ته بقاء او پاېښت ورکړي او که د ولس او حکومت ترمنځ واټن زیاتیږي، نو د حکومت او دولت د له منځه تلو لامل هم کېدای شي. له دې کبله له دویمې نړیوالې جګړې را وروسته د سیاسي علومو اکثره پوهان په دې نظر دي چې بهرنی سیاست یوازې یوه موخه لري او هغه ملي ګټې دي، یعنې نن ورځ حکومتونه خپل بهرنی سیاست یوازې د ملي ګټو د ساتنې په موخه تنظیموي.

په تېره شل کلنه دوره کې د افغانستان د بهرني سیاست د تدوین په موخه په ۱۳۹۲هـ.ل کال کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معینیت د دغه وزارت ستراتیژیک پلان ترتیب کړ او په همدې پلان کې یې د افغانستان د بهرني سیاست اصول او اساسي ټکي په نښه کړل، او په عمومي ډول یې د افغانستان د بهرني سیاست لپاره درې عمده ټکي بیان کړل:

۱- ملي ګټې؛

۲- ملي اهداف؛

۳- ملي ارزښتونه او ملي عنعنات.

په دې توګه پورتني درې عمده موضوعات د افغانستان د بهرني سیاست د جوړولو عمده معیارونه وګڼل شول.

همدارنګه د افغانستان د ۱۳۸۲هـ.ل کال د اساسي قانون په اتمه ماده کې هم د افغانستان د بهرني سیاست اصول یا ویلای شو چې د افغانستان بهرنی سیاست په نښه شوی دی. دغه ماده وایي: «دولت د هېواد خارجي سیاست د خپلواکۍ، ملي ګټو، ځمکنۍ بشپړتیا په ساتلو، مداخله نه کولو، ښه ګاونډیتوب، دوه اړخیز درناوي او د حقوقو د برابرۍ پر بنسټ تنظیموي». د دې مادې پر بنسټ له نورو هېوادونو سره د افغانستان اړیکې او بهرنی سیاست د همدغو اصولو په رڼا کې تنظیمیږي.

د افغانستان اسلامي امارت چې د ۲۰۲۱ز. کال د اګست پر ۱۵مه نېټه واک ته ورسېد، لا تراوسه د بهرني سیاست په اړه لیکلي څه نه لري؛ همدارنګه کوم حقوقي چوکاټ یا اساسي قانون هم لا تراوسه نه دی لیکل شوی چې په رڼا کې یې موږ د اسلامي امارت د بهرني سیاست پر اصولو او کړنلارو پوه شو. خو بیا هم د اسلامي امارت له عملي کړنو څخه په اوسنۍ دوره کې د بهرني سیاست ځینې اصول څرګندېدای شي.

په ملي او نړیواله کچه د هېوادونو په ثبات کې د بهرني سیاست اساسي رول ته په کتلو سره د هر هېواد بهرنی سیاست خورا زیات ارزښت لري. دا چې افغانستان له یوه بنسټیز تحول وروسته اوس په یوه داسې مرحله کې دی چې یوه فعال بهرني سیاست ته اړتیا لري، په دې تحلیلي لیکنه کې غواړو د تېرې شل کلنې دورې بهرني سیاست ته د کتنې ترڅنګ د اسلامي امارت د بهرني سیاست جاج واخلو او د دواړو دورو په پرتلنې سره د یوه فعال او بریالي بهرني سیاست لپاره د هېواد پالیسي جوړوونکو لورو او په ځانګړې توګه د بهرني سیاست په برخه کې فعالو ارګانونو د استفادې لپاره اړین وړاندیزونه ولرو.

## د افغانستان د اسلامي جمهوریت بهرنی سیاست

په دې بحث کې باید دا واضحه وي چې کله موږ د جمهوریت یا د افغانستان د اسلامي جمهوریت د بهرني سیاست بحث مطرح کوو، نو موخه مو ترې له ۲۰۰۱ز. کال څخه تر د جمهوریت د سقوط پورې د افغانستان د بهرني سیاست څېړل دي. په دغه بحث کې موږ د حامد کرزي یا اشرف غني پر مشخص بهرني سیاست بحث نه کوو، بلکې د جمهوریت د بهرني سیاست کلي مسائل څېړو. د افغانستان د اسلامي جمهوریت بهرنی سیاست په عمومي ډول په لاندې ستراتیژیو او بنسټونو ولاړ و، یا په بل عبارت لاندې منفي او مثبتې ځانګړنې یې لرلې:

### ۱- ناخپلواک بهرنی سیاست

د جمهوریت بهرنی سیاست یو ناخپلواک بهرنی سیاست و او دغه سیاست مستقیما د امریکا د متحده ایالاتو تر اغېزو لاندې ترتیبېده او لامل یې هم دا و چې د افغانستان د ملي بودیجې ډېره برخه د امریکا د متحده ایالاتو پر مرستو ولاړه وه. له همدې کبله به که په کومه برخه کې د جمهوریت او امریکا د متحده ایالاتو ترمنځ

د بهرنۍ سياست پر سر ټکر راته، نو امريکا متحده ايالاتو به د تهديد او مرستو بندولو له لارې د خپلې خوښې بهرنۍ سياست پر جمهوريت تحميلاوه. دلته کولای شو څو بېلګې يې وړاندې کړو: له يو هېواد سره د امنيتي يا سياسي تړونونو لاسليک کول د يوه هېواد په بهرنۍ سياست پورې تړاو لري چې ايا لاسليک يې کړو او که نه؟ خو کله چې د امريکا له متحده ايالاتو سره د امنيتي تړون له لاسليک کولو څخه حامد کرزي انکار وکړ، کله چې اشرف غني واک ته راغی، نو د امريکا متحده ايالاتو د مرستو پر بندولو تهديد کړ او اشرف غني پرته له دې چې د افغانستان ملي ګټې په نظر کې ونيسي د امريکا له متحده ايالاتو سره يې امنيتي تړون لاسليک کړ. همدارنګه د جمهوريت په ټوله دوره کې په زرګونو کيلومتره لرې له امريکا او اروپا څخه شرکتونه د پانګونې په موخه افغانستان ته راتلل، خو روسي شرکتونه دلته پانګونې ته نه پرېښودل کېدل، چينايانو هم په خلاص مټ پانګونه نشوای کولای، له ايران سره هم اړيکې په هغه محدوده کې وې په کومه کې چې د امريکا متحده ايالاتو غوښتلې، نو ځکه ويلای شو چې د جمهوريت د دورې بهرنۍ سياست يو ناخپلواک بهرنۍ سياست و.

## ۲- ائتلافي او اتحادي بهرنۍ سياست

د جمهوريت د دورې بهرنۍ سياست بې طرفه نه و، بلکې په نړيواله کچه د امريکا د متحده ايالاتو او د سيمې په کچه د هند پر اتحاد ولاړ بهرنۍ سياست و، چې کېدای شي ووايو، يو يې نظامي ائتلاف او بل يې سياسي اتحاد و. دا اتحاد په رسمي ډول د امريکا متحده ايالاتو هم تاييد او ثبت کړی و او افغانستان يې د غيرناټو هېوادونو په جمله کې د امريکا د متحده ايالاتو په متحدينو کې حساب کړی و. د دې ډول بهرنۍ سياست زيان دا و چې افغانستان له يوې خوا د خپلو ګاونډيانو، لکه: ايران، چين او پاکستان لپاره تشويشونه ايجاد کړي وو او له بلې خوا يې په سيمه کې د روسيې لپاره لوی تشويش ايجاد کړی و. د دغو تشويشونو د رفعې لپاره حتماً دغو هېوادونو داسې کړنې هم کولې چې هغه د افغانستان په زيان تمامېدې. ان تر دې چې داسې ادعاوې هم موجودې وې چې په افغانستان کې د ځينو هېوادونو پر سياسي نمايندګيو د بريدونو ترشا د اړوندو رقيبو هېوادونو لاس و.

## ۳- امنيت محوره بهرنۍ سياست

د جمهوريت د دورې بهرنۍ سياست امنيت محوره و او دغه ډول بهرنۍ سياست دوه بُعده لرل: يو يې بهرنی بُعد و او هغه د امريکا متحده ايالات وو، يعنې سيمې ته د امريکا د متحده ايالاتو د راتګ اصلي موخه امنيتي وه او له همدې امله د افغاستان بهرنۍ سياست هم تر ډېره امنيت محوره شوی و. بل بُعد يې داخلي و او په داخلي بُعد کې د حکومت پر خلاف وسله‌وال مقاومت روان و، چې له کبله يې بهرنۍ سياست هم پر امنيتي محوره تنظيمېده ترڅو افغانستان وکړای چې د سيمې او نړۍ له هېوادونو سره د اړيکو له لارې خپل وسله‌وال مخالفين وځپي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

### ۴- نامتوازن بهرنی سیاست

د جمهوریت د بهرني سیاست بله ستونزه دا وه چې بهرنی سیاست یې متوازن نه و، بلکې د نړیوالو او سیمه ییزو هېوادونو ترمنځ یې له یوې خوا توازن نشو ساتلی او له بلې خوا یې د دوي ترمنځ په شخړو کې هم طرف نیوه. مثلاً: د سعودي عربستان او یمن په قضیه کې یې د سعودي طرف ونیو چې له ایران سره یې پرې اړیکې خرابې شوې. د ارمنستان او اذربایجان په قضیه کې یې د اذربایجان طرف ونیوه. د هند او پاکستان ترمنځ قضایاوو کې یې د هند ملاتړ کاوه. د امریکا د متحده ایالاتو او روسیې ترمنځ یې د امریکا د متحده ایالاتو ملاتړ کاوه. که څه هم په ځینو وختونو کې بیا له متحده ایالاتو سره د اختلافاتو له کبله د روسیې طرفداري هم شوې ده، لکه په ۲۰۱۴ کال کې چې حامد کرزي له امریکا سره د اړیکو د خرابېدو له کبله له روسیې سره د کریمیا د یو ځای کېدو ملاتړ وکړ. په مجموع کې دا ډول نامتوازن بهرنی سیاست د افغانستان په څېر یوه کمزوري هېواد لپاره مناسب نه و.

### ۵- پر پراخو نړیوالو اړیکو ولاړ بهرنی سیاست

د پورتنیو تر ډېره منفي ځانګړنو ترڅنګ، په تېرو شلو کلونو کې د افغانستان بهرني سیاست ځینې مثبت اړخونه هم لرل، چې ترټولو مهم یې د ټولې نړۍ له هېوادونو سره پراخې ډیپلوماتیکې اړیکې وې. په دې دوره کې د افغانستان حکومت د ټولې نړۍ له لوري په رسمیت پېژندل شوی و او د افغانستان بیرغ په ټولو هېوادونو کې رپاند و. ترڅنګ یې افغانستان په نړیوالو او سیمه‌ییزو سازمانونو کې هم فعال حضور درلود او کولای یې شول چې پر نړیوالو ستېجونو خپله خبره او خپل دریځ څرګند کړي. د دې ترڅنګ، که څه هم د ډیپلوماتانو په ګومارنو کې اداري فساد او خپلوي پالنه هم وه او په ډیپلوماتیکو نمایندګیو کې هم اداري فساد ریښې غځولې وې، خو بیا هم د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو او سازمانونو کې افغانستان خپل کادر او ګڼ متخصص ډیپلوماتان لرل.

## د افغانستان د اسلامي امارت بهرنی سیاست

د افغانستان د اسلامي امارت پر بهرني سیاست که څه هم له دې کبله ډېر دقیق تحلیل نه شي کېدای، چې له یوې خوا ایله یو کال شوی چې د اسلامي امارت سرپرست حکومت واک ته رسېدلی او له بلې خوا هېڅ کوم مدَوَن بهرنی سیاست او اساسي قانون هم تراوسه نه لري. بیا هم د اسلامي امارت د دریځونو له مخې ښکاري، چې اوسمهال د هېواد بهرنی سیاست په عمومي ډول په لاندې ستراتیژیو او ځانګړنو ولاړ دی:

### ۱- خپلواک بهرنی سیاست

په نړۍ کې د کمزورو هېوادونو بهرنی سیاست هېڅکله خپلواک کېدای نشي او لامل یې دا دی چې کمزوري هېوادونه له یوې خوا اقتصادي مرستو ته اړتیا لري او له بلې خوا د ځان ساتنې په موخه تر ډېره د لویو قدرتونو

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

غوښتنې منې. که څه هم د اسلامي امارت بهرنی سیاست هم تر همدې کټګورۍ لاندې راتللی شي، خو د جمهوریت د بهرني سیاست په پرتله ویلای شو چې د اسلامي امارت بهرنی سیاست خپلواک دی. په ښکاره یې ویلي چې د نړۍ له ټولو هېوادونو سره ښې اړیکې غواړي، د افغانستان خاوره به د هېڅ هېواد پر ضد نه استعمالېږي، هند خپل سفارت پرانیستی او تخنیکي ټیم یې په خبرو بوخت دی، له روسیې او چین سره یې اړیکې ښې دي حتی په نړیوال سټیج ترې دفاع کوي، او د امریکا له متحده ایالاتو سره هم په قطر کې وخت ناوخت د خبرو او مذاکراتو مېز ته کیني. دا ټولې هغه بېلګې دي چې د بهرني سیاست خپلواکي ترې څرګندېدای شي.

## ۲- بې طرفه بهرنی سیاست

د افغانستان د بهرنیو چارو سرپرست وزیر امیر خان متقي د اسلامي امارت بهرنی سیاست په دې ټکو کې بیان کړی دی: «د افغانستان اسلامي امارت بهرنی سیاست مثبت، بې طرفه، متوازن او اقتصاد محوره دی.»
کله چې مونږ د بې طرفه بهرنی سیاست خبره کوو، نو موخه مو ترې دا ده چې یو هېواد د لویو قدرتونو ترمنځ شخړو کې ښکېل نشي، د لویو قدرتونو له ډلې د کوم قدرت متحد نشي، د ناټو په څېر نظامي ائتلافونو برخه نشي او له ټولو سیالانو سره د خپلو ملي ګټو په چوکاټ کې اړیکې ټینګې کړي.
اسلامي امارت له یوې خوا رسمي بې طرفه بهرنی سیاست اعلان کړی او له بلې خوا عملاً د لویو قدرتونو ترمنځ د کوم قدرت متحد نه دی. د امریکا متحده ایالاتو هم د غیر ناټو متحدینو له نوملړ څخه ایستلی دی. اوسمهال تر ډېره د بهرني سیاست د متخصصینو تحلیل هم دا دی، چې د افغانستان د ستونزو د پای ته رسېدو یوازینی حل په بې طرفه بهرني سیاست کې دی.

## ۳- اقتصاد محوره بهرنی سیاست

د اسلامي امارت د بهرني سیاست بل اصل او ځانګړنه دا ده چې دوی خپل بهرنی سیاست اقتصاد محوره اعلان کړی او لوی لامل یې هم د امریکا متحده ایالاتو د متحد په توګه د دغه هېواد د مرستو بندېدل دي او افغانستان اړ دی چې له داخلي عایداتو خپله بودیجه تنظیم کړي او له نړۍ سره د ښو اقتصادي اړیکو له لارې خپل اقتصاد پر پښو ودروي. بل دلیل هم دا دی، چې په هېواد کې تر ډېره بریده امنیت ټینګ شوی او امنیت محوره بهرنی سیاست نور د افغانستان په ګټه نه دی. که څه هم افغانستان لا هم اړ دی چې له داعش ډلې سره د مقابلې لپاره د سیمې او نړۍ په کچه ملاتړ له ځان سره ولري. د بهرني سیاست د متخصصینو په باور، دغه اقتصاد محوره بهرنی سیاست د افغانستان په ګټه دی او تر ټولو لویه ګټه یې دا ده چې د افغانستان د سیمه‌ییز اتصال لپاره به فرصتونه برابر شي، ځکه د امنیت محوره بهرني سیاست له امله د افغانستان سیمه ییز اتصال له ستونزو سره مخ و او دلیل یې دا و چې روسیه، چین او ایران چې د افغانستان لپاره مهم سیمه ییز هېوادونه ګڼل کېږي د افغانستان د دې ډول بهرني سیاست له امله یې نه غوښتل او یا د امریکا متحده ایالاتو

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

نه پرېښودل چې له افغانستان سره داسې سیمه ییز پیوستون رامنځته شي چې هغوی ته ګټه ورسوي. دا چې اوس د امریکا متحده ایالات په افغانستان کې حضور نه لري او اسلامي امارت هم خپل بهرنی سیاست اقتصاد محوره اعلان کړی دی، دا په اوسني وخت کې یو لوی فرصت دی چې افغانستان د سیمې له هېوادونو سره وصل شي. د دغه سیاست لاسته راوړنه دا ده چې، چین دلته پانګونې ته زړه ښه کړی دی، له ایران سره سوداګریزې اړیکې پراخې شوې دي، روسیې د افغانستان پر صادراتو تعرفه ختمه کړې او لا هم د ښو سوداګریزو اړیکو غوښتونکی دی، هند خپل سفارت پرانیستی او تخنیکي ټیم یې له اسلامي امارت سره په خبرو بوخت دی، پاکستان هم له اسلامي امارت سره په اقتصادي اړیکو کار کوي، او د منځنۍ آسیا هېوادونو له افغانستان سره پر ګډو لویو اقتصادي پروژو کار پیل کړی. دا ټول سیمه ییز اتصال دی چې د اسلامي امارت د اقتصاد محوره سیاست له امله رامنځته شوی او ښکاري چې په راتلونکي کې د لا غوړېدو په لوري روان دی.

## ۴- متوازن بهرنی سیاست

اسلامي امارت خپل بهرنی سیاست د متوازن بهرني سیاست په توګه اعلان کړی، یعنې له یوې خوا به اسلامي امارت د نړیوالو او سیمه ییزو قدرتونو ترمنځ په اړیکو کې توازن ساتي او له بلې خوا به د دغو قدرتونو ترمنځ په شخړو کې طرف نه نیسي. په جمهوري نظام کې د بېلګې په توګه افغانستان ونشو کړای چې د هند او پاکستان ترمنځ په بهرني سیاست کې توازن وساتي، خو اوس سره له دې چې هند په افغانستان کې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو خپلې اندېښنې هم لري، خو بیا یې هم په کابل کې خپل سفارت بېرته پرانیست او خپل تخنیکي ټیم یې کابل ته ولېږه. له دې جوتېږي چې اسلامي امارت خپل متوازن بهرني سیاست ته متعهد دی او دا ډول سیاست کولای شي چې له یوې خوا افغانستان د اقتصادي پرمختګ په لوري روان کړي او له بلې خوا یې له نیابتي جګړو هم وژغوري.

## ۵-پر محدودو نړیوالو اړیکو ولاړ بهرنی سیاست

د اسلامي امارت سرپرست حکومت د یوه کال په تېرېدو سره لا هم د نړۍ د هېڅ هېواد له لوري په رسمیت نه دی پېژندل شوی او یوازې یو شمېر محدود هېوادونه له رسمیت پېژندنې پرته له دغه حکومت سره تعامل او اړیکې ته ننوتلي دي. د دغو هېوادونو تعامل هم تر ډېره د اړوندو هېوادونو د خپلو اړتیاوو او یا هم اقتصادي عواملو له کبله دی. همدا راز د تېر کال په اوږدو کې د اسلامي امارت استازو په ځینو نړیوالو غونډو په ځانګړې توګه د افغانستان په اړه د تاشکند نړیوال کنفرانس کې ګډون کړی؛ خو په ځینو نورو مهمو نړیوالو او سیمه ییزو غونډو کې بیا حضور نه لري. د سیمې په کچه یې په دې وروستیو کې د شانګهای سازمان په غونډه کې د حضور نشتون یادولی شو، حال دا چې افغانستان د دغه سازمان څارونکی غړی هم دی. په نړیواله کچه بیا د نړۍ تر ټولو مهم ارګان ملګرو ملتونو سازمان کې د افغانستان څوکۍ خالي ده او په ځانګړې توګه څو ورځې وړاندې د دغه سازمان د عمومي اسمبلۍ په غونډه کې د افغانستان په استازیتوب هېڅوا وینا ونه کړه.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## پایله او پرتله

د تېرې شل کلنې دورې او اوسني نظام د بهرني سیاست د پایلې او پرتلې په توګه ویلای شو چې د بهرني سیاست په اړه په لاندې برخو کې د جمهوریت او امارت ترمنځ توپیرونه موجود وو:

۱- د جمهوریت بهرنی سیاست مدَوَن و او د بهرنیو چارو وزارت په ستراتیژیک پلان کې یې یادونه شوې وه، خو د امارت بهرنی سیاست تر دا مهاله غیرمدون دی او د پخواني جمهوریت ټول هغه اسناد چې د بهرني سیاست په تدوین یې دلالت کاوه تر دا مهاله په تعلیق کې دي.

۲- د جمهوریت د بهرني سیاست په اړه یو حقوقي چوکاټ موجود و. د ۱۳۸۲ هـ.ل کال د اساسي قانون اتمه ماده د جمهوریت د بهرني سیاست لپاره یو حقوقي چوکاټ ترسیم کړی و، خو د امارت د بهرني سیاست په اړه تر دا مهاله کوم حقوقي چوکاټ نشته او اساسي قانون یې هم لغوه کړی دی.

۳- د جمهوریت بهرنی سیاست بې طرفه نه و، بلکې په اتحاد ولاړ و، خو د امارت بهرنی سیاست بې طرفه دی او د لویو قدرتونو ترمنځ له کوم قدرت سره متحد نه دی.

۴- د جمهوریت بهرنی سیاست ناخپلواک و، خو د جمهوریت په پرتله د امارت بهرنی سیاست خپلواک دی.

۵- د جمهوریت بهرنی سیاست امنیت محوره و، خو د امارت بهرنی سیاست اقتصاد محوره دی.

٦- د جمهوریت بهرنی سیاست غیرمتوازن و او نه یې شو کولای چې د نړیوالو او سیمه‌ییزو قدرتونو ترمنځ توازن وساتي، خو د امارت بهرنی سیاست متوازن دی او تر دا مهاله په دې برخه کې بریالي دي.

۷- د دې ټولو ترڅنګ جمهوریت بیا له ټولې نړۍ سره پراخې اړیکې لرلې او ټولې نړۍ په رسمیت پېژندلی و؛ خو امارت بیا لا هم هېڅ هېواد په رسمیت نه دی پېژندلی او له محدودو هېوادونو سره تعامل او غیررسمي اړیکي لري.

## وړاندیزونه

۱- اسلامي امارت باید تر هر څه وړاندې د اوسني نظام د رسمیت پېژندنې قضیې ته زیات اهمیت ورکړي او باید د بهرني سیاست تر ټولو مهم لومړیتوب وي. که افغانستان په رسمیت ونه پېژندل شي، د اوسني نظام پر وړاندې به ستونزې ورځ تر بلې زیاتېږي. د رسمیت پېژندنې او بهرني سیاست قضیه د هېواد له داخلي وضعیت او مسائلو سره کلکه اړیکه لري. له دې کبله اسلامي امارت ته پکار ده چې هغه مسائل چې پر نړیوالو ستېجونو د اسلامي امارت د دریځ د کمزورۍ لامل کېږي، حل کړي. په دې برخه کې اوسمهال ترټولو مهمه قضیه د وګړو د اساسي حقونو او په ځانګړې توګه د ښځو د کار او تعلیم قضیه ده چې په ملي او نړیواله کچه یې

نارضايتي زياته کړې ده، کوم څه چې نه يوازې له اسلام سره هم په ټکر کې نه دي، بلکې د اسلام سپېڅلی دين يې علمبردار دی.

۲- بې طرفه بهرنی سياست د افغانستان شرايطو ته په کتو د دې هېواد د ستونزو لپاره يوه ښه حللاره ده، نو ځکه بايد اسلامي امارت په هېڅ ډول په بهرني سياست کې بې طرفي نقض نه کړي.

۳- افغانستان تل د نامتوازن بهرني سياست له امله د نيابتي جګړو ډګر ګرځېدلی دی، ځکه نو له اسلامي امارت څخه تمه ده چې په بهرني سياست کې د روسيې او امريکا، چين او امريکا، ايران او امريکا، هند او پاکستان، هند او چين او نورو قدرتونو ترمنځ توازن وساتي.

۴- افغانستان دا مهال له اقتصادي بحران سره مخ دی، له دې کبله اقتصاد محوره بهرنی سياست د هېواد په ګټه دی او په واقعي ډول بايد دوام ورکړل شي. د چابهار بندر، تاپي، کاسا ۱۰۰۰، تاپ -۵۰۰، د پنځو ملتونو د ريل پټلی او نورو اقتصادي پروژو د تطبيق لپاره بايد جدي اقدامات ترسره شي.

۵- د امريکا له متحده ايالاتو، اروپايي هېوادونو او نورو هغو هېوادونو سره ښې اړيکې چې د امريکا متحدين دي، د رسميت پېژندنې، اقتصادي وضعيت ښه والي، او داخلي امنيتي وضعيت د ثبات لپاره مهمې دي. له دې کبله له امريکا سره بايد د تقابل پر ځای له تفاهم څخه کار واخيستل شي.

٦- اسلامي امارت ته پکار ده چې په بهرني سياست کې نړيوال عرفونه په هغه صورت کې چې له اسلامي ارزښتونو او اصولو سره مستقيم تضاد ونه لري، رعايت کړي؛ ځکه ممکن هېواد ته يې د رعايت په صورت کې د ځينو سليقوي تضادونو سره سره د مصلحت کچه زياته وي. که په بهرني سياست کې د نړيوالو عرفونو نه رعايت د هېواد لپاره د مصلحتونو د له منځه تللو لامل کېږي، په داسې حال کې چې له اسلامي او ملي ارزښتونو سره تضاد هم ونه لري، پکار ده چې دا نړيوال عرفونه د حکومت له لوري مراعات شي؛ ځکه د فقهي قاعدې له مخې اخف الضررين ته بايد ترجيح ورکړل شي.                پای

---

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com  info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: ‎+۹۳۷۸٦۰۰۹٦۹۹

---



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)